Oregon Department of Justice's CIVIL RIGHTS UNIT

# د رسنیو سره د تعصب جرم قربانیانو د راکړه ورکړه لپاره لارښوونې

ممکن د نفرت جرم یا د تعصب پېښې وروسته د رسنیو خبریالان تاسې ته راشي او له تاسې د خپل راپور لپاره ستاسې د بیان غوښتنه وکړي. تاسې ممکن حتی وغواړئ پخپله آنلاین یا خپلې ټولنیزې رسنۍ کې معلومات پوسټ کړئ. ستاسې د شخصي کیسې څواک کولی شي د عامه پوهاوي ډېریدو، پوهې، تعلیم، او سیسټمونو یا قانوني بدلونونو کې ونډه ولري. تاسې همدارنګه ممکن خپل محرمیت له لاسه ورکړئ یا د خپل ځان یا نورو لپاره په داسې توګه د راښکاره کیدو لامل شئ چې تاسې یې اراده نه درلودله.

د رسنیو سره راکړې ورکړې لپاره دلته ځینې لارښوونې دي:

- □ کوم څه چې تاسې رسنیو ته وایی هغه عام محضر ته وړاندې کیږي او د تل لپاره به عام محضر کې وي.
- □ واردمخه د قانوني لارښود لپاره د یوه وکیل سره خبرې کول په پام کې ولرئ.
- □ واردمخه په عام محضر کې د غږیدو په اړه د خوندیتوب پلان لپاره د اوریګون د ایالت په سطح [تعصب غبرګون هاټلاین](#) څخه د یوه وکیل سره غږیدل ملاحظه کړئ.
- □ تاسې کولی شئ یو ویاند وټاکئ چې ستاسې په استازیتوب وغږیږي که تاسې د رسنیو سره مستقیم اړیکه نه غواړئ. پدې کې د کورنۍ غړی، ملګری، وکیل، مذهبي مشر، یا د قرباني وکیل شامل کیدی شي.
- □ تایید کړئ چې تاسې د چا سره غږیږئ. پوښتنه وکړئ چې آیا کولی شئ د خبري رسنۍ مرکز ته زنګ ووهئ ترڅو د هغوی سره یې اړیکه تایید کړئ. د خبریال د اعتبارلیک کتلو غوښتنه وکړئ.
- □ د خبریال سره د ملاقات لپاره د موافقت کولو دمخه د هغو څخه پوښتنه وکړئ چې د کیسې په تړاو د هغوی اراده او موخه څه ده.
- □ ستاسې د خبرو/بیان پرمهال د شاهد په توګه او/یا د یادداشتونو اخیستلو لپاره یو باوري ملګری د ځان سره ولرئ.
- □ پخپله د خبرو ریکارډ کولو لپاره اجازه واخلئ. خبریال هم ممکن له تاسې ورته غوښتنه وکړي.
- □ غوښتنه وکړئ چې آیا امکان لري هویت مو پټ یا مستعار پاتې شي.
- □ که تاسې د خپل نوم شریکولو انتخاب وکړئ، نو د خبرتیال لپاره یې هجې کړئ او خپل ضمیرونه مشخص کړئ.
- □ حدونه وټاکئ. تاسې کولی شئ ووایی چې ستاسې د بیان ځینې برخې د ریکارډ څخه بهر یا دباندې دي.
- □ غیر ارادي پایلې ملاحظه کړئ. آیا مخکې لدې چې تاسې چمتو اوسئ، رسنۍ به تاسې د پوښښ لاندې ونیسي؟ یا آیا ستاسې ماشومانو، ستاسې ښوونځي، یا ستاسې کارګمارونکي باندې به ستاسې بیان اغیزه ولري؟

- واردمخه خپل د خبرو اصلي ټکي وليکئ.
- پدې اړه ذهن کې ولرئ چې ستاسې بيان به د يوې تلويزيوني کيسې، د ورځپاڼې کيسې، د راډيويي کيسې، د آنلاين غږيزې/ويډيويي/متني کيسې او نور ډېرو مواردو پايله ولري.
- پدې اړه خبر اوسئ چې يو بلاګر، انفلوينسر، پوډکاسټر يا کوم بل فرد چې د ژورناليزم هيڅ پوهه يا تجربه ونلري ممکن ستاسې د بيان څخه ځيني برخې پرې کړي يا ممکن ستاسې تجربې او بيان باندې وغږيږي او ممکن آنلاين ډېر زيات ليدونکي او اوريدونکي ولري. حتی نورې خبري ادارې چې تاسې يې نه ملاتړ کوئ/ورسره موافقت نلرئ ممکن ستاسې د اصلي بيان څخه خپله کيسه پرې کړي.
- خبر اوسئ چې ستاسې بيان کې خورا کوچنی تناقص کولی شي د راتلونکي جنايي يا مدني قانوني کيس ته زيان ورسوي.
- د ټولو تعقيبي پوښتنو/مرکو لپاره د اړيکې يو فرد وټاکئ.
- په ياد ولرئ: د جرم د قرباني په حيث، تاسې اړ نه يې د رسنيو سره مرکې وکړئ يا ورسره وغږيږئ. پوهه شئ چې تاسې د محرميت غوښتنې حق لرئ که تاسې وغواړئ.
- که تاسې د خبرياالانو لخوا د ځورول کيدو احساس وکړئ، تاسې کولی شئ د هغوی کارګومارونکو يا د پوليسو سره شکايت ثبت کړئ.